اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

دا مضمون د "غیبت کی تباہ کاریاں" صفحه 194 تا 210 نه اخستے شوے دے۔

# د شپږو مړو واقعات

دُعائے عطار: یاالله کریمه! چي څوک هم دا رِساله " د شپږو مړو واقعات" اُولوَلي یا ئي واورِي، هغه ته د حلال رزق ګټلو او په خپل بال بچو باندې د خوړلو توفیق نصیب کړې او په هغه باندې د جهنّم اور حرام کړې۔ اٰمین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمین صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شریف فضیلت

د الله پاک محبوب ارشاد فرمائي: چا چي په ما باندې سل ځله درود شریف اولوستلو الله پاک د هغه د دواړو سترګو تر مینځه اولیکي چي دا د نفاق او د جهنم د اور نه آزاد دے او دي به په ورځ د قیامت د شهداؤ سره ساتي-" (معجم اوسط، 252/5، حدیث: 7235)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د شپږو مړو ویرووُنکے حکایات

د خلقو د عِبرت د پاره د مړو شوو مسلمانانو بدي بیانولو کښې شرعاً څه باک نِشته، مُحدّثینو د مسلمانانو د وِیرولو د پاره په خپلو کتابونو کښې د مړو کافرانو نه علاوه د بَدمذهبو او مسلمانانو د عذابونو تذکرے هم فرمائیلي دي چنانچه په دي باره کښې د شپږو مړو ویرووونکي حکایات ملاحظه کړئ:

## ﴿1﴾ د اُور کُرته

حضرت سیدنا ابو رافِع رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: زه د رسول الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په بقیع باندې تیریدم نو رسول الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: اُف! اُف! نو ما دا ګمان اوکړو چي کیدے شي رسول الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په باره کښې اِراده فرمائي۔ ما عرض اُوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا زما نه څه غلطي اُوشوه؟ اُوئې فرمائیل: نه، بلکه دا قبر والا

ما بَنُون فلانکي ته د صَدقے وصولولو د پاره لیږلے وُو نو دې کس یو څادر په طور د خیانت پټ کړے وو۔ آخر هم هغه شان یوه کُرته د اُور ده ته واغوستولے شوه ۔ (نسائی،1/150، حدیث:859)

## د حضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه څه پټ نه دي

**اے عاشقان رسول!** تاسو اوکتل! د عبرت درس وَرکولو د پاره په دې حدیث کښې د یو مړه شوي کس د قبر د عذاب ذکر اوکړے شو۔ د دې روایت نه دا خبره هم د لمَر پشان ښکاره شوه چې زمونږ خوږ پیغمبر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **الله** پاک په عطا سره علمِ غیب لري ځکه خو ئې د عذابِ قبر سره د عذاب سبب هم سمدستي بیان کړلو۔

د اعلیٰ حضرت، امام اهل سنت، مولانا امام احمد رضا خان رَحمۃُاللہِ عَلَیْہ خومره ښکلي عقیده وه چنانچه د دوئي د حدائقِ بخشش یو شعر واورئ او خپل ایمان تازه کړئ۔

سرِ عرش پر ہے تری گزر، دلِ فرش پر ہے تری نظر
ملکوت و مُلک میں کوئی شے، نہیں وہ جو تجھ پہ عِیاں نہیں

(حدائق بخشش، ص109)

(یعني یارسول الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د **الله** پاک په عنایت سره عرش ستاسو لا ره ده او فرش ستاسو د سترګو وراندي دے۔ الغرض که ملائکه وي او که عالمِ اَرواح، په کائنات کښې داسې یو څیز هم نشته چې ستاسو نه پټ وي)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿2﴾ د بے دینه په غاړه کښې مار

حافظ اَبُو خَلّال په "کراماتُ الاَولیاء" کښې په خپل سند سره ذکر کړې دي چې ما ته عبدالله بن هاشم اوفرمائیل: زه یو مړي ته غُسل ورکولو د پاره لاړم، ما چې کله د هغه د بدن نه کپړے لرې کړې نو د هغه د غاړې نه ماران تاؤ شوي وو! ما هغه مارانو

ته اووئيل چې تاسو په ده باندې مسلط کړے شوے ئې خو مونږ ده له غسل ورکول غواړو، که ستاسو اجازت وي نو مونږه به ده له غسل ورکړو بيا تاسو خپل ځائے ته واپس راشئ، نو هغه ماران لرې شو او يو ګوټ ته شولو- چې کله مونږ د مړي د غسل نه فارغه شو نو هغه ماران واپس خپل ځائے ته راغلل- دا کس په بےدينئ (يعني ګمراهئ) کښې مشهور وُو- (شَرْحُ الصُّدُور ص177)

## ﴿3﴾ د غاړې نه ئې مار تاؤ شوے وُو

حضرت ابو اسحاق رحمۃُ اللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: زه د يو مړي د غُسل د پاره اُوبللے شوم، ما چې کله د هغه د مخ نه کپړه لرې کړه نو د هغه د غاړې نه مار تاؤ شوے وو، خلقو اووئيل چې ده به صحابه کرامو رضی اللہُ تعالٰی عنہم ته کنزلې کولې- (مَعاذَ الله) (شَرْحُ الصُّدُور ص173)

## د صحابه کرامو په باره کښې د الله نه اويريږئ!

**اے عاشقانِ صحابه و اهل بيت!** معاذالله! صحابه کرامو رضی اللہُ تعالٰی عنہم ته کنزلې کول ګناه، ګناه او ډيره سخته ګناه، قطعي حرام او جهنم ته بوتللو والا کار دے- د عاشقان رسول ديني تحريک دعوت اسلامي د **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** (د 192 صفحو) کتاب "سَوَانِحِ کربلا" په صَفحَه 31 کښې دي: د حضرت عبدالله بن مغفل رضی اللہُ تعالٰی عنہ نه روايت دے چې حضور صلَّی اللہُ تعالٰی علیہِ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: زما د صحابه کرامو رضی اللہُ تعالٰی عنہم په باره کښې د **الله** پاک نه اُويَرِيږئ! د **الله** نه اُويَرِيږئ! دوئي زما نه پس [د بدې وَينا] نښنه مه جوړوئ، چا چې دوئي سره محبت اوکړو نو زما د وجهې نه ئې ورسره محبت اوکړو او چا چې دوئي سره بغض اوکړو هغه زما سره بغض لرې، د دې وجهې نه ئې د هغوئي سره بغض اوکړو، چا چې دوئي ته تکليف ورکړو هغه ما ته تکليف راکړو، او چا چې ما ته تکليف راکړو بے شکه هغه **الله** پاک ته تکليف ورکړو او نزدے ده چې **الله** پاک به هغه په خپل ګرفت کښې اونيسي- (ترمذی، 463/5، حديث:3888)

## د صحابه کرامو انتهائي ادب کوئ

صدرُالافاضِل حضرت علامه مولانا سید نعیم الدین مراد آبادي رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: مسلمان له پکار دي چې د صحابه کرامو علیہمِ الرِّضوان ډېر زيات ادب کوي او په زړه کښې د هغوئي عقیدت او محبت له ځائے ورکړي- د هغوئي رضی اللہ تعالٰی عنہم محبت د حضور صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم محبت دے او کوم بدنصیبه چې د صحابه کرامو رضی اللہ تعالٰی عنہم په شان کښې بد الفاظ اُووائي هغه د خدائے او د رسول الله صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم دشمنان دي مسلمانان دِ داسې کس سره نه کښيني- (سَوانحِ کربلا ص31)

اعلي حضرت رحمۃُاللہِ تعالٰی علیہ فرمائي:

اہلسنّت کا ہے بَیڑا پار اصحابِ حُضور　　نَجم ہیں اور ناؤ ہے عِترت رسول اللہ کی

(حدائقِ بخشش ص153)

(يعنې د اهلسنت بيړئ پورې وتې ده ځکه چې صحابه د دوئي د پاره په مثل د ستورو دي او اهل بيت د کشتئ په شان دي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی اللّٰه!　اَسْتَغْفِرُ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ په قبر کښې وِيرِوونکے تور مار

د حضرت عبدالله بن عباس رضی اللہ تعالٰی عنہ په خدمت کښې څه خلق حاضر شو او عرض ئې اوکړو: مونږ د حج په سفر وَتلي يُو، مقامِ صِفاح کښې زمونږ د قافلے يو کس مړ شوے دے- مونږ چې کله د هغه د پاره قبر اوکنستو نو يو ډېر لوئ تور مار پکښې وو چې ټول قبر ئې نيولے وُو هغه مونږ پريښودو او دويم قبر مو اوکنستو نو په هغې کښې هم هغه شان مار ښکاره شو- ستاسو په خدمت کښې د دې مُشکلې مسئلے د پاره حاضر شوي يُو- حضرت عبدالله بن عباس رضی اللہ تعالٰی عنہما اوفرمائيل: دا د هغه د خيانت سزا ده چې هغه به خيانت کولو-" او د بَيهقي الفاظ دا دي: ذَاکَ عَمَلُهُ الَّذِي کَانَ

**یَعمَلُ** یعني ”دا د هغه د عمل سزا ده کوم به چې هغه به کولو-“ تاسو هغه مړے د هغه دواړو قبرونو نه په یو قبر کښې خخ کړئ، قسم په خُدائے! که تاسو دا ټوله دنیا را اُوکښنئ نو هم په هر ځائے کښې دغه څه وِینئ-“ بالآخر مونږ هغه د مار نه ډک هغه قبر کښې خخ کړو واپس چې کله راغلو نو مونږ د هغه سامان د هغه د کور خلقو ته ورکړو او د هغه د بي بي نه مو د هغه د اعمالو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغې اووئیل: ده به طعام خرڅولو او د کور د پاره به ئې د هغې نه څه راوِیستلو او د هغه کمي پوره کولو د پاره به ئې په هغې کښې هُم هغه همره ملاوټ کولو- (شرح الصدور، ص174، شعب الایمان، 334/4، حدیث:5311)

## دوکه باز د جهنم نه دے

**اے عاشقان رسول!** تاسو اوکتل! ضرورتاً د عبرت د پاره د مړي بدِي بیانول جائز وُو ځکه خو عبدالله ابن عباس رضی اللہ تعالٰی عنہما د هغه مړ شوي حاجي بدي بیان کړه او د جواز په بنیاد مُحدِّثینو هُم دا حکایت په خپلو خپلو کتابونو کښې نقل کړو، د دې حکایت نه د ملاوټ مال په دوکه باندې د خرڅولو خرابي او عذاب معلوم شو- د عاشقانِ رسول مدني تحریک دعوت اسلامي د **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** (د 480 صفحو) کتاب ”بیاناتِ عطاریه“ حصهاوّل صفحه 218 کښې دي: د **الله** پاک د خوږ حبیب صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: څوک چې زمونږ سره دوکه کوي هغه زمونږ نه نه دے او مَکر او دوکه بازي په جهنم کښې دي- (معجم کبیر، 138/10، حدیث:10234) په یو بل مقام باندې حضور صلَّی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: درې کسان به جنّت ته نه ځي: (۱) دوکه باز (۲) بخِیل (۳) احسان زباتلو والا- (ترمذی، 3/388، حدیث:1970)

## د ملاوټ والا مال خرڅولو جائزه طریقه

د دې نه دِ هغه خلق عبرت حاصل کړي چې د ملاوټ مال په دوکه باندې خرڅوِي، چې که د مرګ نه پس اُونیولے شو نو څه به کوي! که مال د ملاوټ وي او ګاهک ته د

ملاوټ مقدار وغيره اُووَئيلے شي يا پټکښې ملاوټ بالکل ښکاره معلوميږي نو داسې مال خرخول جائز دي هله چې په دې کښې څه خبره پټه اُونه ساتلے شي مثلاً د ملاوټ مقدار ئې بيان کړو خو ګم ئې بيان کړو لکه 50 فيصده ملاوټ وو او 25 فيصده ئې بيان کړو يا چې څومره ملاوټ د بهر نه ښکاري د هغې نه زيات ملاوټ پټکښې لاندې پروت وي او هغه ښکاره نه کړي نو بيا جائز نه دي دغه شان د دوکه ورکولو د پاره د پاسه ښه ميوه او لاندې يا مينځ کښې سخا ميوه کيښودلو والا او دغسې په نورو څيزونو کښې د دوکے نه کار اخستلو والا ته د دې ګناهونو نه بچ کيدل پکار دي۔

يادرکھ اس کی سزا ہوگی کڑی　　دھوکا بازی میں نُحوست ہے بڑی

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿5﴾ مرغئ اُلتئ اوکړې نو د هغې نه انسان راوُوَتو!

**عِصمه** عَبَّاداني وائي چې: زه په يو ځنګل کښې ګرځيدم چې هلته ما يوه کِرجه [د عِيسايانو عِبادت خانه] اوليدله، په کِرجه کښې د يو راهِب خانقاه وه په هغې کښې موجود راهِب نه ما تپوس وکړو چې په دې (وِيرانه) مُقام [يعني بيابان] کښې چې تا د ټولو نه زيات عجيبه څيز ليدلے وي هغه ما ته بيان کړه! نو هغه اووئيل چې: ما يوه ورځ دلته د شُتر مُرغ په شان يوه ډيره غټه سپينه مرغئ وليدله، هغه په هغه ګټ کښيناستله او قے [يعني اُلتئ] ئې وکړې، په هغې کښې ئې يو انساني سر وګرځولو، هغه مسلسل اُلتئ کولې او په هغې کښې انساني اندامونه راوتل او د بجلئ په شان تيزئ سره د يو بل سره يو ځائے کيدل تر دې چې هغه پوره سړے جوړ شو! هغه سړي چې څنګه د پاځيدو کوشش وکړو نو هغه د ديو هُمره غټې مرغئ هغه په ټونګه اووهو او ټُکړے ټُکړے ئې کړو او بيا ئې اوخوړو. ډيرو ورځو پورې ما دا خوفناک منظر ليدلو، زما يقين د الله جَلَّ جَلالُهٗ په قُدرت باندې نور زيات شو چې واقعي اللّٰه تَعَالٰی د وژلو نه پس په ژوندي کولو قادِر دے. يوه

ورځ زه هغه د ديو هُمره غټې مرغۍ ته مُتَوَجِّه شوم او تپوس مې ترينه وکړو چې اے مرغۍ! زه تا ته د هُغه ذات قَسَم درکووم چا چې ته پيدا کړې ئې! دا ځَل چې هغه انسان پوره شي نو هغه لږ ساعت پرېږده چې زه د هغه نه د هغه عمل معلوم کړم! نو هغه مرغۍ په فَصِيح عربۍ کښې اووئيل چې: ”هُم زما د رب جَلَّ جَلالُهٗ د پاره بادشاهي او بَقا ده، هر څيز فاني دے او هُم هغه باقي دے زه د هغه يو فرښته يم او په دې کس باندې مُسَلَّط کړے شوے يم چې ده ته د ده د گُناه مسلسل سزا ورکووم.“ چې کله په اُلتۍ کښې هغه انسان را اووتو نو ما د هغه نه تپوس وکړو چې اے په خپل نفس باندې ظُلم کوونکي انسانه! ته څوک ئې او ستا څه قِصّه ده؟ هغه جواب راکړو چې: زه د حضرتِ مولائے کائنات، عَلِیُّ الْمُرتَضٰی شيرِخُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قاتِل عبدُالرَّحمٰن اِبنِ مُلجَم يم، چې کله زه مړ شوم نو د **الله** پاک په بارگاه کښې زما رُوح حاضِر شو، هغه زما اعمال نامه ما ته راکړه، په هغې کښې زما د پيدائِش نه واخله د حضرتِ علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهيد کولو پورې هره نيکي او بدي ليکلې شوې وه. بيا **الله** پاک دې فرښتے ته حُکم وکړو چې دا د قيامته پورې ما ته عذاب راکوي.“ دا ئې اووئيل او خاموش شو او هغه د ديو هُمره غټې مرغۍ هغه په ټُونگو اووهو او اُوئې خوړو او لاړه. (شرح الصدور، ص175)

## اِبنِ ملجم مولٰي علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ولې شهيد کړو؟

**اے عاشقان صحابه و اهلِ بيت!** تاسو اوکتل! د مولٰي علي شير خدا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قاتل چې خارجي بد دِينه او گمراهه وو د هغه څنگه دردناک انجام اُوشو! هغه بدنصيبه ولې د داسې لوئے گناه طرف ته مائله شوے وو، په دې باره کښې حضرت علّامه جلال الدين سُيُوطي شافعي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ”مُستدرَک“ په حواله سره ليکلي دي چې اِبنِ مُلجم د قطام نومې خارجۍ ښځې په عشقِ مجازي کښې گرفتاره شوے وو، هغې ورته په مهر کښې درې زره دِرهمه او د علي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د قتل مطالبه کړې وه. (تاريخ الخلفاء، ص139، مستدرک، 4/121، رقم:4744)

افسوس! په عشق مجازي کښې ابن ملجم ړوند شوے وو او هغه د مولائے کائنات، علي شیر خدا رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په شان عظیم شخصیت شهید کړو، هغه بدکِرداره ته به هغه ښځه څه په لاس ورغلي وه چې سمدستي ورته دا سزا هم ملاو شوه چې خلقو فوراً اُونیولو، او آخر دا چې د هغه بدن ئې ټکړے ټکړے کړو او په یوه ټوکرئ کښې واچولو او اُور ئې ورته اولګوو او هغه اُوسوزیدو او خاورې اِیرې شو! او د مرګ نه پس د هغه د سخت عذاب تذکره تاسو اوس واوریدله۔ هغه بدبخته، نه د دې ځائے شو او نه د هغه ځائے۔ حضرت سیدنا ابوالدّرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ بالکل رښتیا فرمائیلي دي چې ”د شهوت د لږ ساعت پیروي د اُوګرد غم باعث جوړیږي۔“ (د صحابي قول د هُم دې ځائے پورې دے) (تاریخ ابن عساکر, 173/47)

قابیل هم د شهوت په وجه حضرت سَیِّدُنا هابیل رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه شهید کړے وو نو داسې برباد شو چې سړے ئې واوري نو بدن ئې اُوریږي! نو د هغه حکایت هم ملاحظه کړئ او د شهوت د آفت نه د الله ربُ العزّت پناه اوغواړئ۔

## ﴿6﴾ په حوض باندې اُلټه زوړند سړے

**عبدالله** وائي: مونږ څو کسان د سمندر په سفر باندې روان شو۔ اتفاقاً یو څو ورځې تِیاره خوره وه، کله چې رڼړا شوه نو یو کلے راغے۔ عبدالله وائي چې زه د اوبو څښلو د پاره د اوبو په تلاش کښې روان شوم نو د هغه استوګنې [آبادئ] دروازے بندې وے، ما ډیر آوازونه اوکړل، خو څه جواب رانغے، په دې دوران کښې دوه کسان په اس سواره ښکاره شُو، هغوئي اووئیل: چې اے عبدالله! په دې کوڅه کښې داخل شه نو د اوبو یو حوض به راشي د هغې نه اوبه واخله او هلته چې کوم منظر دے د هغې په لیدلو باندې مه ویریږه ما د هغوئي نه د هغه بندو دروازو په باره کښې تپوس اوکړو چې په هغې کښې هواګانې چلیدې، هغوئي اووئیل: ”دا هغه کورونه دي په کومو کښې چې د مړو رُوحُونه اوسیږي۔“ بیا زه حوض ته ورَغلَم نو ما اولیدل چې یو کس په اوبو باندې سر ښکته رازوړند دے هغه په خپل لاس کښې اوبه راخستل غواړي خو ناکامه شي، زه ئې چې اولیدلم نو چغې

ئې کړې: چې اے عبداللّٰه! په ما باندې اوبه اوڅښنه۔ ما يو لوښے واخستو او په اوبو کښې مې ډوب کړو چې په ده باندې اوبه اوڅښم خو چا زما لاس اونيولو، ما هغه زوړند کس ته اووئيل: اے د خدائے بنده! تا اوکتل چې ما د خپل طرف نه کوشش اوکړو چې په تا باندې اوبه اوڅښم خو زما لاس اونيولے شو، ته ماته خپله واقعه بيان کړه۔ هغه اووئيل: زه د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام ځوئ (قابيل) يم، چا چې په دنيا کښې د ټولو نه اولنے قتل کړے وو۔ (موسوعة ابن ابي الدنيا،296/6 ،رقم:48)

## د قابيل بدې کارنامے

اے عاشقانِ رسول! قابيل په شروع کښې مسلمان وو بيا وروستو مُرتد شوے وو، هم دے په دنيا کښې اولنے قتل کړے وو، ده ته په دنيا کښې دا سزاګانې ورکړے شوے چې قتل کولو سره سمدستي د ده سپين رنګ تور شو، زړه ئې يَڪدَم سخت شو، خپله خور اِقلِيمه ئې د عَدَن طرف ته اُوتَښتَوَله، حرام اولاد ئې پيدا شو، کله چې بُوډا شو نو د ده اولاد به دے په کاڼړو ويشتلو، تر دې چې د خپل اولاد په کاڼړو ويشتلو ويشتلو باندې هلاک شو۔ د هلاکت نه پس چې کومه دردناکه سزا ورکړے شوه د هغې په باره کښې تاسو واوريدل۔ مُفَسِّر شهِير حکيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د قابيل د بدو کارنامو په باره کښې فرمائي: د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام حڪم نه مَنَل، د ناجائزه نڪاح کولو اراده کول، د هابيل د قتل کولو اراده کول، د هابيل د قتل کولو نه پس مُرتد کيدل، سندرې وئيل، باجے او نور د موسيقۍ اوزار ايجاد کول، مزيد فرمائي: د مرتد و بےدينه د پاره د نبي ځوئ کيدل بالکل بےکاره دي، د نبي ځوئ کيدل د ايمان سره فائده مند دي، ګورئ قابيل د نبي ځوئ وو خو هلاک شو۔ (تفسير نعيمى،362،361/6 ماخوذا)

تری رحمتوں ہی سے ایماں ملا ہے　　نہ ہو اب یہ مجھ سے جدا یا الٰہی
مسلماں ہے عطّار تیری عطا سے　　ہو ایمان پر خاتمہ یا الٰہی

## په درس کښې شِرکت کول زما د اِصلاح سبب اوګرځيدو

د ايمان جذبه حاصلولو او د غِيبت کولو او اوريدلو خَصلت ختمولو او د لمُونځونو او سنّتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي مدني ماحول سره هر وخت خپل تعلق مضبوط ساتئ، د سنّتو د تربيّت د پاره په مدني قافلو کښې عاشقان رسول سره سفر کوئ او کامياب ژوند تيرَوَلو د پاره او د آخرت ګټلو د پاره د نيک اعمالو مطابق عمل کوئ او روزانه د [خپلو اعمالو د] جائزے په ذريعه رساله ډکوئ او د هرې مدني مياشتې په اَوَلِني تاريخ ئې خپل ذمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ۔ د فيضانِ سنّت درس ، اِنفرادي کوشش، د رمضان المُبارک په مياشت کښې عاشقان رسول سره په اعتکاف کښې کښيناستلو کښې ډير لوئ برکتونه دي! راځئ! چې په دې باره کښې تاسو ته يو مدني سپرلے واوروو۔ د بهمبر، کشمير يو اسلامي ورور په فرسټ ائير کښې سبق وئيلو، د کالج آزاد ماحول وو، د فلمونو، ډرامو او سندرو او موسيقئ ډير زيات شوقين وو تر دې پورې چې هغه ګاډي کښې به ئې سفر نه کولو په کوم کښې به چې سندرې يا فلم نه وو! د هغوئي کالونئ ته يو اسلامي ورُور تشريف راوړو هغه د فيضان سنّت نه درس ورکړو او يوه دُعا ئې ورته ياده کړه۔ په هغې دے ډير زيات متاثِره شو، او د هغې نه پس ئې بيا درس فيضان سنّت اوريدل شروع کړل۔ د هغوئي د ديني ماحول سره د باقاعده تړون يوه ډيره لويه وجه د هغوئي د علاقے د يو مُبلِّغِ دعوتِ اسلامي حُسنِ اخلاق، اعلي کردار، د ښه او نيک عمل جذبه او د محبت په انداز کښې انفرادي کوشش کول دي۔ الحمد للّٰه! هغوئي د رمضان المُبارک په مياشت کښې عاشقان رسول سره د لسو ورځو د اعتکاف کولو سعادت هم حاصل کړو۔ د دې پرې دومره لوئ اثر اوشو چې هغه د ګناهونو نه توبه اوکړه او په کشمير کښې د دعوت اسلامي د يو "مجلس" نګران جوړ شو او د کشمير د يو ډويژن په نګرانئ باندې هم مشرّفه شو۔

خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوکتل! چي يو اسلامي ورور ته د درسِ فيضان سنت په برکت ديني ماحول طرف ته رغبت ملاؤ شو، د اسلامي ورور انفرادي کوشش و شفقت نور تقويّت ورکړو او په کروړونو مرحبا! مدني ماحول کښي د سنتو نه ډک اعتکاف د ګناهونو په کنده کښي پريوتي انسان ته لاس ورکړو او رابهر ئي کړو او دومره لوئے عظمت ئي ورکړو چي د دعوت اسلامي د ډيرو ذمه دارانو ذمه دار ئي جوړ کړو. کاش! چي ټول اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې (او ټول غټ او واړه ذمه داران) روزانه د فيضان سنّت د دوو درسونه ورکولو يا اوريدلو ترکيب جوړوئ.

## د قبر رنړا

د **درس** و بيان د ثواب به څه وائي! حضرتِ علّامه جلالُ الدِّين سُيوطي الشّافعي رحمة الله عليه په "شرحُ الصُّدور" کښي نقل کوي: اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى **حضرتِ** سيّدُنا مُوسىٰ كليمُ الله عليه السّلام ته وحي اوفرمائيله: "**د خير** [يعني د نيکئ] **خبرې ښچپله هم زده کړه او نورو ته ئي هم زده کړه، زه به د نيکئ زده کوونکو او نورو ته د ښودونکو قبرونه روښانه کړم چي هغوئي ته د هيڅ قِسمه ويره نه وي.**" (حلية الاولياء، 6/5، حديث:7622)

## قبرونه به ئي ځليږي

د دې رِوايت نه د نيکئ د خبرې د زده کولو او نورو ته د ښودلو اجر و ثواب معلوم شو، د سُنّتو ډك بيان کوونکو يا د درس ورکوونکو او اوريدونکو خو به مزے شي. اِنْ شَآءَاللّٰه عزّوجلّ د هغوئي قبرونه به دننه ځليږي او هغوئي ته به د هيڅ قِسم ويره نه **محسوس** کيږي. د اِنفِرادي **کوشش** په ذريعه د نيکئ د دعوت ورکوونکو، په **مَدَني قافله** کښي د سفر کوونکو او د خپلو اعمالو د جائزه اخستلو په ذريعه د **نيک اعمالو** رساله کښي هره ورځ د خانو ډکولو ترغيب ورکوونکو او د سُنّتو ډکه اجتماع کښي د شِرکت دعوت ورکوونکو او د مُبَلِّغينو د نيکئ د دعوت د اوريدونکو قبرونه به هم اِنْ شَآءَاللّٰه د حُضُورِ انور صلّى الله عليه واله وسلّم د نُور په خاطر نُورٌ عَلٰی نُور وي.

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نُور کے

جلوه فرما ہوگی جب طلعت رسولُ اللہ کی (حدائق بخشش، ص152)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُالله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په دعوت کښې د غیبت حکایت

حضرت سیّدُنا ابراهیم بن ادهم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه یو ځائے ته د طعام دعوت د پاره تشریف یوړلو، خلقو خپل مینځ کښې اُووَئیل چې فلانکے تر اوسه پورې نه دے راغلے۔ یو کس اُووئیل: هغه پیړ خو ډیر سُست دے په دې باندې حضرت سیدنا ابراهیم بن ادهم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خپل ځان ملامَته کړو چې افسوس! زما د خیټې په وجه په ما باندې دا آفت راغلو چې زه یو داسې مجلس ته راغلے یم چرته چې د یو مسلمان غیبت کیږي۔ دا ئې اووئیل او د هغه ځائے نه ئې واپس تشریف یوړلو او (د دې خفګان په وجه) درې ورځې (او په بل رِوایت کښې دي چې اووه) ورځو پورې ئې طعام اُونه خوړلو۔ (تنبیه الغافلین، ص89)

## چا ته سست وغیره وئیلو په باره کښې 19 مثالونه

اے عاشقانِ اولیاء! تاسو اوکتل! د الله پاک نیکان بندګان د مسلمانانو بے عِزَّتي بالکل نه برداشت کوي او داسې مجلِسونه او دعوتونه هم پریږدي کوم ځائے کښې چې د مسلمانانو غیبت کیږي۔ آیا کله مونږه هم د غیبتونو د ماحول نه ډک دعوت یا مجلس نه وتلي یُو؟ خو داسې ځائے نه د پاڅیدلو نه مخکښې د خپلې خبرې وزن کتل پکار وي یعنې که دا غالب گُمان مو وي چې پوهه کولو باندې به غیبت کوونکي توبه اوباسي نو بیا خو به هغوئي د غیبت نه منع کول په تاسو واجب شي او که داسې صورت نه وي نو چې څنګه کیدے شي د غیبت اوریدلو نه ځان ساتئ او که د فتنے او فساد ویره نه وي نو د داسې ځائے نه پاڅئ او لاړ شئ۔ ولے چې د غیبت جائز صورتونه هم شته لهذا د پوهه کولو او تللو والا له دومره علم لرل ضروري دي چې دے پوهه شي چې دا واقعي د ګناه نه ډک غیبت کیږي۔ د دې حکایت نه دا معلومه شوه چې پِښې شا چا ته "پیړ" او" سُست" وئیل

هم په غيبت کښې داخل دي۔ پيړ او سُست دواړه بيل بيل الفاظ دي يعني که يو غټ وجود والا کس ته ئې پِشِي شَا بغير د اجازتِ شرعي نه پيړ اووئيلو نو بيا هم غيبت دے دغسې بے اجازتِ شرعي پِشِي شَا چا ته ''سُست'' ''کاهل'' ''ناکاره '' ''ناراسته'' ''په کار کښې غَل'' ''بے کاره'' ''بے غيرته'' ''باندېچي''''جاهل'' ''بےتعليمه'' ''کم عقل'' ''احمق'' ''بےوقوفه'' ''نادان'' ''سودائي'' ''ديوانه'' ''ليونے'' ''په ډير وخت کښې پوهيدلو والا'' ''شوده'' وغيره وئيل هم غيبت دے۔

مِرے سر پہ عِصیاں کا بار آہ مولیٰ! بڑھا جاتا ہے دم بدم یاالٰہی
زمیں بوجھ سے میرے پھٹتی نہیں ہے یہ تیرا ہی تو ہے کرم یاالٰہی (وسائلِ بخشش،ص110)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوااِلَى الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دواړو جهانو ذلّت

اعلٰي حضرت مولانا امام شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فتاوٰي رضويه شريف جلد 24 صَفحَه 347 کښې فرمائي: څوک چې د مظلومه مدد کولو باندې قادر وي او مدد ئې اُونکړي نو د هغه د پاره د ذِلَّت عذاب دے۔ حديث شريف کښې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د چا په مخکښې چې د هغه د مسلمان ورور غيبت اوکړے شي او دے د هغه په مدد کولو باندې قادر وي او اُوئې نکړي، **الله** پاک به دے په دنيا و آخرت کښې نيسي ۔'' (ذم الغيبة ابن ابی الدنيا، 4/388، رقم: 108)

د هُم دې جلد په صَفحه 426تا427 باندې نور ليکي : نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د چا په مخکښې چې د بل مسلمان بےعزّتي اوکړے شي او هغه د طاقت لرلو باوجود د هغه مدد اونکړي نو په ورځ د قيامت به **الله** پاک هغه د خلقو په وړاندې ذليله او رُسوا کوي۔'' (مسند امام احمد، 5/412، حديث: 15985)

اعلٰي حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ د دې حدیث پاک ذکر کولو نه پس لیکي: اندازه اوکړئ چې د مسلمان (د غیبت وغیره په ذریعه ) بےعزّتي کیدلو باندې خاموشه پاتې کیدل د داسې عذاب (یعني په ورځ د قیامت د رسوائې) باعث دې نو بیا ځپله په هغه پسې کیدل (یعني د یو مسلمان د غیبت وغیره کولو په ذریعه هغه) ذلیله کول او چې د کوم منصب او مرتبے په وجه د خلقو په مینځ کښې هغه ته عزت حاصل دے په هغې کښې (د غیبتونو، الزاماتو، بدګمانۍ وغیره په ذریعه) د خلل اچولو کوشش کول به څومره د عذاب او د الله پاک د غَضَب سبب وي! (فتاوٰی رضویہ،426،24/427)

## د الله پاک ورکړے عزّت څوک اخستے شي!

اے عاشقان اعلٰي حضرت! د بیان شوو روایاتو او د اعلٰي حضرت د فرموداتو (یعني ارشاداتو) نه دِ هغه حَضَرات عِبرت حاصل کړي چې څوک بغیر د څه شرعي اجازته د یو سُنّي عالِم، مشر، سربراه، د یو تنظیم د ذمه دار، یا د یو مسلمان په غیبت کښې اخته کیږي۔ هغوئي د تنقید نښه جوړوي او د هغوئي عزّت خرابوي ، دغه شان غیبتونه، چغلیانې، تهمتونه، بدګمانیانې، عیب لګول، زړه آزارول او معلومه نه ده چې نور د کومو کومو ګناهونو مرتڪب جوړ شي۔ کوم کس له چې الله پاک عزت ورکړې د هغه عزت څوک اخستے شي! واورئ! واورئ! کوم بدنصیبه چې بغیر د څه شرعي وجهې نه د یو مسلمان مخالفت کوي هغه بدنامَوِي د داسې خلقو په باره کښې الله پاک قرآن کریم کښې فرمائي چنانچه پاره 18 سورةُالنّور آیت نمبر 19 کښې دي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیۡنَ یُحِبُّوۡنَ اَنۡ تَشِیۡعَ الۡفَاحِشَۃُ فِی الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَہُمۡ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۙ فِی الدُّنۡیَا وَ الۡاٰخِرَۃِ ؕ | مفهوم ترجمه کنزالایمان: هغه خلق کوم چې غواړي چې په مسلمانانو کښې بد خبر خور شي د هغوئي د پاره دردناک عذاب دے په دنیا او آخرت کښې۔ |

مجھے غیبتوں سے تو محفوظ فرما پئے سرورِ دو جہاں یاالٰہی
جو شاہِ مدینہ کی نعتیں سنائے عطا کر دے ایسی زباں یاالٰہی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوبُوا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## آقا ﷺ په خوب كښې اوفرمائيل

د غيبت كولو، اوريدلو عادت لرې كولو او د لمُونځونو او سنّتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي ديني ماحول سره هر وخت تړلي اوسئ، د سنتو تربيت د پاره په مدني قافلو كښې د عاشقان رسول سره د سنّتو نه ډک سفر كوئ او كامياب ژوند تيرولو د پاره او آخرت ګټلو د پاره د نيكو اعمالو مطابق د عمل كولو او روزانه د [خپلو اعمالو] د جائزے اخستلو په ذريعه رساله [كښې خانے] ډكوئ او د هرې مياشتے په يكم تاريخ ئې خپل ذمه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ۔ راځئ چې د "جمات ډک كړئ اجتماع" يو عجيبه مَدَني سپرلے واورو: چنانچه الحمد لله! 10 ستمبر 2004 په ورځ د **جمعةُ المبارک** تحصيل تهري مير واه سره يو ځائے "كوټ حاجي الياس خاص خيلي " (پاكستان) جيلاني مسجد كښې د ماسخُتن د لمُونځ نه پس "جمات ډک كړئ اجتماع " اوشوه۔ د دعوت اسلامي مبلغ د سنتو ډک بيان اوكړو او د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي بين الاقوامي اجتماع ستمبر (2004) كښې د شركت او سمدستي مدني قافله كښې د سفر كولو ډير ترغيب ئې وركړو۔ الحمد لله! اُووه اسلامي وروڼه د دولسو ورځو مدني قافله كښې تللو د پاره تيار شو۔ هم په دغه شپه هم د دغه كلي يو اسلامي ورور درود شريف لوستلو لوستلو كښې اوده شو هغه ته په خوب كښې د سردار دوجهان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار نصيب شو، نبي كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سلام نه پس پخپله خپل تعارف اوفرمائيلو چې زه **محمد** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يم او

چې څه ئې ارشاد اوفرمائيل په هغې کښې دا هم وو چې ”ستاسو په کلي باندې خصوصي کرم اوشو۔“ نورئې اوفرمائيل چې څوک خپل مخ په کيره ښائيسته کړي د هغه زما سره مينه ده او څوک چې کيره خرَوِي د هغه زما سره مينه نشته او ته روزانه د تهجّدو نيت کوے خو سُستي اوکړې، پاڅه او تهجّد ادا کړه۔“کله چې په کنړه کښې هغه اسلامي ورور په قسم سره دا خوب بيان کړو نو د دې په اوريدلو ډيرو اسلامي ورونړو خپل مخونه په کيره باندې د ښائسته کولو او په مدني قافله کښې د سفر کولو نيتونه اُوکړل۔

گوٹھ میں گاؤں میں، دھوپ میں چھاؤں میں
سب سے کہتے رہیں، قافلے میں چلو
جنگل و کوہ میں، کوہ کی کھوہ میں
دیں کے ڈنکے بجیں، قافلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ”جمات ډک کړئ“ اجتماع مرحبا!

اے عاشقان رسول! سبحان الله! د” جمات ډک کړئ اجتماع “ د بَرکتونو به څه وائې! بعضې وخت کښې سياسي طور ”جيل ډک کړئ“ تحريک چليږي، دعوت اسلامي چې د سنّتو ډک د عاشقان رسول ديني تحريک دے،دوئې د جمات ډکولو عزم لري او غواړي چې په څه طريقه د اُمّت بچے بچے لمونځ گزاره جوړ شي په دې مدني سپرلي کښې اَهَمه خبره په خوب کښې د حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کول او دا پيغامِ رِسالت دے: چې کوم کس مخ په کيره ښائسته کړي هغه ما سره مينه لري او څوک چې کيره خَرَوِي هغه ما سره مينه نه لري۔ او په خوب کښې د دې خبرې تائيد د دې حديث پاک نه کيږي چې په هغې کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد مبارک دے: څوک چې زما سنت اختيار کړي هغه زما دے او څوک چې زما د سنتو نه مخ واړَوِي هغه زما نه دے۔

(تاريخ ابن عساکر، رقم:4496، 38/127)

## د کيرې په باره کښې يو عبرتناک خوب

زه (سگِ مدينه عفي عنه) د دعوت اسلامي قافلے سره د مختلفو ښارونو په سفر کښې د هِند گجرات صوبے يو ساحلي ښار ”وَيرواَل“ ته حاضر شوم، هلته مې يو کِيره خرئيلي ځلمي

سره ملاقات اوشو چې هغه ما ته څه داسې خوب بیان کړو: ما [په خوب کښې] اولیدل، چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ځا په زنګون باندې خپل سر مبارک ایښے دے او ملاست دے، په خواه کښې ورسره د دعوت اسلامي یو مُبلّغ حاضر دے، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دعوت اسلامي هغه مبلغ ته اوفرمائیل: (الفاظ راته یاد نه دي خو مضمون څه داسې دے) زما اُمّتیان ګیره خَرَوِي، دې سره زما سینه درد کوي۔" دا ئې چې واوریدل نو هغه مُبلّغ زما په ګیره خرئیلي مخ باندې دواړه لاسونه راښکل او زما سترګې اُوغړیدلې۔ (غالباً چې هغه خوب تازه وو ځکه چې هغه ځلمي زما په مخکښې د ګیرې پریښودلو د عزم اظهار اوکړو)

## د محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت نښه په مخ پریږدئ

خوږو اسلامي وروڼړو! ځا چې تر اوسه پورې ګیره نه ده پریښې هغه له پکار دي چې د خوږ پیغمبر صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خواږه سنت او د محبت نښه ګِیره مبارکه باندې خپل مخ ښائسته کړي، او تر اوسه پورې چې ځا ګیره خرَئیلي وي یا ئې د زنې نه ښکته د یو موټې نه کمه کړي وي د هغې نه دِ توبه هُم اوباسي۔ شیطان مو که هر څومره منع کړي خو د دعوت اسلامي د اشاعتي ادارے مَكْتَبَةُ الْمَدِینه نه د زړه نرمولو والا رساله، "کالے بچھو" (صَفحات 25) مطالعه کړئ او ورسره ورسره د مَكْتَبَةُ الْمَدِینه نه جاري شوے، "کالے بچھو" نومي آډیو کیسټ هُم واورئ یا ئې V.C.D اوګورئ۔

سرکار کا عاشِق بھی کیا داڑھی مُنڈاتا ہے    کیوں عِشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا

(وسائلِ بخشش، ص163)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰہ!    اَسْتَغْفِرُ اللّٰہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد